**امریکا به پاکستان د افغانستان لپاره قرباني نه کړي!**



ځیني کسان چې د افغانستان او سویلي آسیا په اړه د ډونالډ ټرامپ له ستراتیژۍ څخه رسنیزبرداشت لري، داسې انګیري چې ګواکې امریکا په بې ساري ډول پر پاکستان فشار راوړی دی. خو ځیني نور کسان بیا فکر کوي چې دا ستراتیژي د افغان حکومت د سیاستونو پایله ده. آیا ربنتیا هم امریکا په خپل پخوانی متحد (پاکستان) د فشارونو د زیاتولو په لټه کې ده؟ آیا امریکا به دغه یوازینی مسلمان هیواد چې په هستوي وسله سمبال دی، د افغانستان لپاره قرباني کړي؟

د ټرامپ د نوې ستراتیژي له اعلان وروسته د ډیرو هیوادونو مشرانو تود هرکلی ورته وواېه. په دې لړ کې چین د دغې ستراتیژۍ هغه برخه په کلکه وغندله، چې پاکستان یې پکې «امن تروریستي پټنځای» بللی دی.

همدارنګه په افغانستان کې د جمهور ریس دویم مرستیال سرور دانش او پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د ټرامپ پر نوې ستراتیژۍ نیوکه وکړه، چې دسولې پرځای، چې دافغانانو اصلي غوښتنه ده، بیا هم پر جګړه تاکید کوي.

بارک اوباما د خپلې ولسمشرۍ په دواړو دورو کې هڅه وکړه چې د افغانستان جګړه پای ته ورسوي. په همدې موخه یې خپل ځواکونه تر سلو زور زیات کړل؛ خوپه پایله کې یې جګړه ختمه نه کړه. بارک اوباما په ۲۰۱۲م کال کې خپله ستره ستراتیژي اعلان کړه، چې ٦۰ سلنه نظامي تمرکز پکې پر «آسیا پسفیک» و. داسې ویل کیدل چې اروپا نور د امریکا لپاره کوم ګواښ نه دی، بلکه چین به د دویم نړیوال اقتصادی ځواک په توګه د امریکا لپاره خورا لوی نظامي او اقتصادی ګواښ وي. له همدې کبله امریکا خپل ٦۰ سلنه نظامی تمرکز آسیا پسفیک ته واړاوه.

د امریکا د وخت دفاع وزیر اشتون کارتر ویلي وو: «چین خپله نظامي ورتیا لوړه کړې او امریکا په انتقالي حالت کې ده. موږ له تروریزم سره له ۱۴ کاله مبارزې وروسته، اوس د ستراتیژیکی انتقالي مرحلې په پیل کې یو، چې برخلیک‌ټاکوونکو امنیتی ننگونو ته د ځواب په موخه مطرح شوې ده.»
ډونالډ ټرامپ د انتخاباتي مبارزو پر مهال به له یوې خوا پر چین دفشار د زیاتولو تاکید کاوه، له بلې خوا به یي په افغانستان کې د جګړې د ختمولو خبره کوله. د نوموړي له بریا وروسته ډیره موده تېره شوه، چې بالاخره د سپینې ماڼۍ سیاسی- نظامي دکترینو په افغانستان کې د جګړې پر دوام او د ځواکونه په زیاتوالي په دې توپیر پریکړه وکړه، چې دا ځل پر پاکستان فشار راوړل شي. ښایي له دې امله چې چین له خپل ګاونډي سره بوخت وساتل شي.
په همدې حالت کې لیدل کیږي چې تاوتریخوالی په لرې ختیځ او د چین په ګاونډ کې مخ پر زیاتېدو دی. د چین ستر تجارتي شریک شمالي کوریا، دومره مخ ته ځي چې فکر کیږي هستوي جګړه د پېښېدو په حال کې ده؛ مګر داسې ونه شول او په اوسنیو شرایطوکې به هېڅکله هم داسې ونه شي.
په حقیقت کې د امریکا متحده ایالاتو چین له دواړو اړخونو څخه بوخت ساتلی، ترڅو له نړیوالې پراختیا غوښتنې شاته پاتې شي. تر دې چې دنړیوالې ټولنې له فشار سره سره په امنیت شورا کې چین او روسیې پر شمالي کوریا د تحریم له مخالفینو څخه وو، دواړه هیوادونه د امریکا او ملګرو ملتونو د سازمان بندیزونو منلو ته چمتو شول. لکه څرنګه چې چین چمتووالي ښکاره کړ چې له شمالي کوریا سره د تېلو او منسوجاتو تجارت محدود او یا هم بالکل پرې کړي. پر چین له فشارونو سره یوځای، امریکا هڅه کوي چې په افغانستان کې د هندوستان نفوذ او ونډه تقویه کړي. هغه هیواد چې له پخوا څخه د پاکستان او چین دښمن دی. برعکس په افغانستان کې د پاکستان د رول پر کمولو او دغه راز پر هغه پر دیپلوماتیکو فشارونو ټینګار کوي.
سره له پورته ذکرشویو موضوعاتو لیدل کیږي چې پر پاکستان فشار له دې کبله نه دی چې ګواکې تروریستانو ته امن پټنځای دی، بلکه له دې ورها خوا د چین د بوخت ساتلو موضوع ده. که د چین موضوع نه وای، امریکا او دهغې استخباراتی شبکه سي آی ای  وار له مخه په دې پوهیدل چې د تروریستانو امن پناه ځایونه چیرته دي؟ او وختي به یي په هکله پریکړه کړې وای.
بناً څرګنده شوه چې دا خبره ناسمه ده چې پر پاکستان فشارونه د افغان حکومت د خارجي  سیاست او دیپلوماسۍ پایله ده. دا د چین د مهارولو لپاره پر آسیا پسفیک د امریکا د ٦٠ سلنه نظامي  تمرکز د ځنځیر یوه کړۍ ده. په دې کړۍ کې روسیه هم شامله ده. زیاته هڅه وشوه چې روسیه هم له دې سیاست سره همغږې شي. خو داسې ښکاري چې امریکا په دې برخه کې کوم بریالیتوب نه دی ترلاسه کړی.
بناً امریکا به په هستوي وسلې سمبال یواځنی مسلمان هیواد، چې دوی پخپله تجهیز کړی، هیڅکله هم دافغانستان لپاره قرباني کړي. د حامد کرزي په خبره چې د بارک اوبا ما مرستیال جوبایدن ورته ویلي وو: «پاکستان

امریکا ته تر افغانستان ۵۰ ځله مهم دی.» په واقعیت کې همداسې دی، خو په اوسنیو شرایطو او د امریکا په نوې ستراتیژۍ کې باید پر پاکستان همداسې فشار راوړل شي.

له دې سره سره د تعجب وړه خبره نه ده چې د ټرامپ په ستراتیژۍ کې په افغانستان کې د جګړې د ختمولو او سولې کوم څرک نه لیدل کیږي؛ تر دې چې د خپلو ځواکونو د وتلو لپاره یې کوم ټاکلی مهالویش هم نه دی مطرح کړی. نو د ټرامپ د نوې ستراتیژۍ موخه د هغه څه برعکس چې افغان دولت او لوړ پوړي چارواکي یې تود هرکلی کوي، داسې څه ده چې د رسنیو له کمرو څخه یې ها خوا تصمیم نیول کیږي او تعقیبیږي.